

London Borough of Hounslow

# دبی سرپرسته پناه غوښتونکي کوچنيانو روزنيزه پاملرنه

د کډوالۍ بحران . هر ماشوم مهم دی

## مقدمه

موږ پداسې يو وضيعت کې ژوند کوو چې سيمه ايز مقامات د کډوالۍ اوسني بحران ته د ځواب ورکولو په اړه د لويو ننګونو سره مخ دي. د هانزلو د ساتنيزو خدماتو لپاره يوه مهمه ننګونه ترپاملرنې لاندې هغو کوچنيانو ته د متخصصو ساتونکو موندل دي چې په يواځې ډول يې د ډيرو هيوادونو له طريقه سفرونه کړي او انګلستان ته له رسيدو مخکې يې ډير زيانونه ليدلي دي او پناه غواړي.

بې سرپرسته پناه غوښتونکي کوچنيان د هغو کوچنيانو په پرتله چې لا د پخوا څخه تر پاملرنې لاندې دي بل ډول تجربې لري او په نورو لارو يې سفرونه کړي. د مثال په ډول، ځينې کوچنيان به په کورنۍ کې د ناروغيو په سبب، د کورنيو د ماتيدو او کورنيو ستونزو، او يا د داسې حالاتو په سبب تر پاملرنې لاندې وي چې رفاهي اړتياوې يې نه بشپړيږي او يا هم د زيانمن کيدو د خطر سره مخامخ وي. تر پاملرنې لاندې ډيرى کوچنيانو غفلت، ځاني، عاطفي او يا جنسى ناوړه ګټه اخيستنه تجربه کړي.

بې سرپرسته پناه غوښتونکي کوچنيان د خپل هيواد څخه په تيښتې مجبور شوي، چيرته چې د مدني نا امنۍ، د کورنيو څخه د جلا کيدلو او زيان سره مخامخ شوي دي. دغه کوچنيان په زوره د خپلو ملګرو او کورنيو لخوا د خپل هيواد پريښودو ته مجبور شوي ځکه چې هغوي غوښتل ترڅو کوچنيان يې د سرپناه او ثبات په لټه کې شي او ترى حفاظت وشي. نوى هيواد ته د کوچنيانو سفر ډارونکې دى ځکه چې هغوي د خپلو کورنو، موروپلار او خويندو ورونو په پريښودلو مجبور شوي وي. هغوي د يو آشنا ځاى پريښودلو ته مجبور شوي چې نوم يې کور وو، چيرته چې هغوي پخپل کلتور، ژبه او ټولنيز چاپيريال پوهيدل. کله چې بې سرپرسته پناه غوښتونکي کوچنيان د خپل موروپلار پرته بريتانيا ته داخل شي، نو د سيمه ايزو مقاماتو ترپاملرنې لاندې راوستل کيږي، پدى هيله چې د منظور شوي ساتنيزو روزونکو سره ورته د اوسيدو ځاى پيدا کړي کوم چې به هغوي ته د خپل نوي کور سره د آشنا کيدلو په برخه کې ثبات او ملاتړ برابروي. ډير شمير بې سرپرسته پناه غوښتونکي کوچنيان چې د هانزلو لخوا يې ساتنه کيږي د لاندې هيوادنو څخه دي

- افغانستان
- البانيا
- اريتريا
- عراق
- ايران
- ويتنام

## هانزلو د څه شي په لټه کې دى؟

هانزلو د متخصصو روزنيزو ساتونکو په لټه کې دى چې د پناه غوښتونکي کوچنيانو د پاملرنې لپاره ليوالتيا ولري. د پناه غوښتونکي کوچنيانو ساتنه د هغو کوچنيانو څخه د پاملرنې په معنى دى چې دخپلو کورنيو سره ژوند نشي کولى او هغوي ته د پاملرنې، ملاتړ او امن کورد برابرولو

په مفهوم دی.  ساتنه د کوچنیانو د ورځنیو اړتیاوو د مرفوع کولو څخه عبارت دی.  دا کله د څو ورځو، څو میاشتو او یا تر هغه مهاله پورې وي چې کوچنیان په خپلواک ډول ژوند کولو ته چمتوشي. د خپل وخت او پاملرنې په ورکولو سره، تاسې کوچنیانو ته ځای او فرصت ورکوئ ترڅو خپل ژوند بیرته ورغوي.

په عمومي ډول روزنیز ساتونکي د ژوند د ټولو برخو او مختلفو شالیدونو پورې اړوند وي.  هغه څه چې دوی یې په ګډه سره لري کوچنیانو ته د وده کولو او خپل ژوند کې د بدلون راوستلو او د ځان لپاره د ښه راتلونکي جوړولو د فرصت د برابرولو لیوالتیا دی.  روزنیز ساتونکي یو د ډیرو نورو مسلکي خلکو څخه وي چې تر پاملرنې لاندې د یو کوچني په ژوند کې ښکیل وي، چې د کوچني په ګټه سره یوځای کار کوي.

هغه روزنیز ساتونکي چې د بې سرپرسته پناه غوښتونکي کوچنیانو څخه ساتنه کوي، صبر، ترحم او د کوچني د کلتور په اړه پوهاوي ته اړتیا لري ترڅو وکولی شي هغه کلتور ته وده ورکړي. همداراز دی ته اړتیا ده ترڅو روزنیز ساتونکي د کډوالۍ په بهیرکې د کوچنیانو څخه ملاتړ وکړي او په بریتانیا کې د ژوند سره په آشنا کیدو او یا هم د امکان په صورت کې که چیرې امن وي، نو د بیرته تګ لپاره د هغوي د چمتو کولو په برخه کې ورسره مرسته وکړي. پدې کې به د کوچنیانو سره دکورنیو چارو وزارت ته  هم تګ شامل وي.

ډیر بې سرپرسته پناه غوښتونکي کوچنیان به همداراز عاطفي، عملي، ژبني او کلتوري اړتیاوې ولري چې لازمه ده ترڅو د روزنیزو ساتونکو لخوا په پام کې ونیول شي.  که چیرې مناسب وي نو روزنیز ساتونکي به ژباړونکو ته لاسرسۍ ولري او د هغوي لخوا به ورسره مرسته وشي.

منظور شوي او راتلونکي ساتونکو ته به قوي او ځانګړې زده کړې ورکړل شي تر څو د پناه غوښتونکي کوچنیانو د ملاتړ به برخه کې ورسره مرسته وشي.

## ساتونکو ته کومې مرستې ورکول کیږي؟

- که چیرې تاسې د هانزلو د منظور شوي ساتونکو د شبکې سره یوځای شئ ، موږ به زیاور وباسو ترڅو تاسې او ستاسو ترپاملرنې لاندې کوچنیانو سره د بریالي کیدو په هدف بشپړ ملاتړ وکړو
- له سخاوته ډک مالي مرسته چې په هرو دوه هفتو کې د هر ماشوم پرسر تر ۸۶۸،۶۰ پونډو پورې دی
- منظمو مرستندویه ګروپونو او تفریحي ټولنیزو فعالیتونو ته لاس رسی
- روزنیزو ساتونکو ته ځانګړې وړیا زده کړې او پردی سربیره د زده کړې دوامداره فرصتونه
- ۲۴ ساعته، په هفته کې ۷ ورځې او په کال کې ۳۶۵ ورځې ملاتړ
- ستاسو د خپل مسئول او تجربه لوروونکي ټولنیز کارکونکي لخوا منظم ملاقاتونه
- د روزنیزو ساتونکو او د هغوي د کورنیو لپاره د فیوژن د لامبو او میرلین وړیا کارتونه

- د روزنیز پاملرنې د خپلواکې خیریه اداري یعنې فاسټرنګ نیټورک غړیتوب
- ترپاملرنې لاندې د کوچنیانو د ځانګړو اړتیاوو په اړه د مشورې لپاره به دفتر کې دننه یو روانپوه ته لاس رسئ
- ژباړونکو او د هانزلو د ژباړنې خدماتو ته لاس رسئ
- د هانزلو د روزنیزو ساتونکو څخه په هغه موده کې د کونسل د مالیاتو د ورکولو توقع نه کیږي چې روزنیزه پاملرنه وړاندې کوي.

## څوک روزنه کولی شي؟

د هانزلو روزنیز ساتونکي د ژوندانه د بیلابیلو برخو پورې تړاو لري. هغه څه چې مهم دی دا دی چې تاسې د هغه کوچنې د پاملرنې لپاره وخت، ځای او ژمنه ولرئ چې ترې ساتنه کوئ.

**لازمه ده ترڅو په هانزلو کې د روزنیز ساتونکی کیدلو لپاره متاقاضیان په لاندی شرایطو سمبال وي:**

- د ۲۱ څخه یی عمر لوړ وي
- د خوب یوه خالي کوټه ولري چې ټول وخت اوزګار وي
- په بریتانیا کې د اوسیدو دایمي اجازه ولرئ
- په انګلیسي ژبه خبرې، لیک او لوست وکلولئ شئ
- صحت یی ښه وي
- لازمه ده ترڅو ساتونکي صبر او درک ولري او د کوچنې لپاره د یو با ثباته او د مینې ډک چاپیریال په برابرولو کې د ټولنیز کارکونکي سره یو ځای کار وکړي.

**د هانلزلو لپاره ساتونکي کولئ شي:**

- د هر قومي او مذهبي پس منظر پورې تړاو ولري
- مجرد او یا واده شوی وي او یا هم د ملګري سره ژوند وکړي
- مخالف جنس ته لیوال، ښځینه همجنس باز او یا نارینه همجنس باز اوسي
- په کرایی کور کې، د کونسل په کور کې او یا هم پخپل ملکیت کې ژوند وکړي
- کولئ شئ پخپله مور او یا پلار اوسئ او یا هم د کوچنیانو د پاملرنې تجربه ولرئ

ساتنه ممکن له ننګونو ډک وي. لازمه ده ترڅو تاسې د ښه صحت خاوند اوسئ او وکولئ شئ ترڅو هغه ستونزې درک کړئ چې کوچنیان او د هغوي کورنۍ ورسره مخامخ دي.

## د منظور شوی ساتونکی کیدلو پورې ستاسې سفر

روزنیز ساتونکی کیدل یوه اسانه پریکړه نده. موږ مجبور یو ترڅو دا یقیني کړو چې تاسې د یو کوچني لپاره غوره انتخاب یاست، لهذا مخکې لدی چې یو څوک د منظور شوي ساتونکي په

ډول پیژندل کیږي، لازمه ده ترڅو د یو جامع بهیر څخه تیر شي.

په اوسط ډول، په هانزلو کې د منظور شوي ساتونکی کیدلو لپاره شپږو میاشته ته اړتیا ده.

## له پړاو څخه مخکې

**د پاملرنې لپاره خپله لیوالتیا څرګند کړئ**
په لاندې طریقو خپل لیوالتیا راجستر کولۍ شئ

- په www.hounslow.gov.uk/fostering ویب پانه کې زموږ د فورمې د ډکولو په وسیله
- 0800 731 8558 نمبر ته د تیلفون کولو په وسیله
- د پاملرنې معلوماتې غونډې ته د حاضریدو په وسیله.

پدغه مرحله کې به موږ تاسې ته د بریښنالیک او یا پوسټ په وسیله معلوماتي اسناد درولږو.

کله چې ستاسو د لیوالتیا خبر ترلاسه کړو نو موږ به:

- د تیلفون له طریقه د پوښتنې یو بهیر بشپړ کړو چې شاوخوا ۳۰ دقیقې وخت ته اړتیا لري
- د دغه پړاو څخه د مخکې تګ لپاره به تاسې د خوب یوې اضافي کوټې ته اړتیا ولرئ

پدغه مرحله کې به موږ پریکړه وکړو چې ایا تاسې راتلونکي پړاو ته د پرمختګ لپاره بریالي یاست او که نه.

**د یو کورني ملاقات په وسیله د یو بل ښه پیژندنه**
که چیرې تاسې بریالی شوئ، د استخدام د برخې یو ټولنیز کارکونکی به تاسې سره اړیکه ونیسي ترڅو ستاسې په کور کې د ملاقات لپاره یو مناسب وخت تنظیم کړي. په کور کې د ملاقات په لړ کې به موږ په لاندې برخو کې تاسو ته معلومات درکړو:

- د پاملرنې په اړه نور تفصیل او همداراز به له هغه ځای څخه کتنه وکړو چې تاسې سره موجود دی
- ستاسې د کور مناسبتیا
- موږ به د پاملرنې لپاره ستاسې لیوالتیا تثبیت کړو
- د هغو کوچنیانو ډولونه چې پاملرنې ته اړتیا لري
- هغه ملاتړ چې تاسې ته به د یوې ساتونکي په حیث درکول کیږي.

که چیرې دواړه پدې اړه پریکړه وکړو چې بهیر ته دوام ورکوو، لازمه به وي ترڅو تاسې د پاملرنې غوښتنلیک او د موافقې فورمه بشپړ کړئ ترڅو قانوني پلټنې ترسره شي.

## لومړی پړاو

لومړی پړاو هغه مهال پیلږي چې ستاسو بشپړ شوې فورمه موږ ته راورسیږي. همداراز لازمه ده ترڅو تاسې د "پاملرنې د مهارتونو" د چمتووالي په روزنه کې برخه واخلئ چې د روزنې د ټیم لخوا برابریږي. دغه روزنه به تاسې سره په لاندې برخو کې مرسته وکړي:

- د پاملرنې لپاره په اړینو ژمنو پوهیدل
- د پاملرنې لاندې کوچنیانو د اړتیاوو په اړه زده کړه
- د پاملرنې لپاره د اړتیا وړ مهارتونو زده کول.

تاسو ته به فرصت درکړل شي ترڅو خپل هم فکره خلکو سره ملاقات وکړئ څوک چې به د کوچنیانو پاملرنې ته چمتوالی اخلي او یا هم اوسمهال د کوچنیانو او تنکیو خلکو څخه ساتنه کوي.

یو شمیر مهم موضوعات چې به د زده کړې په بهیر کې شامل وي په لاندې ډول دي:
- د روزنیزو ساتونکو ونډه
- کلتوري هویت او د ژوند فرصتونو ته وده ورکول
- د پاملرنې ننګونې او د هغه په بدل کې انعام
- د کوچني وده
- په امن ډول ساتنه
- د اوسیدو نوي ځای ته د کوچنیناو لیږدول او یا د خپلو کورنیو او خپلوانو سره د ژوند لپاره د هغوي ورستنیدل.

پدغه پړاو کې به ستاسو په خوښه لاندې پلټنې ترسر شي:
- د پولیسو\ جرمي سابقې پلټنې
- طبي پلټنې
- د اشتغال پلټنې
- مالي پلټنې
- مسلکي او شخصي مراجع.

کله چې پلټنې او معلومات ترلاسه شول، د ۱۰ ورځو په لړ کې به تاسو ته دوهم پړاو ته د پرمختګ د پریکړې خبر درکړل شي.

که چیرې په لومړي پړاو کې موږ پریکړه وکړو چې ستاسو اروزنې ته به دوام نه ورکوو نو تاسو ته به د خپلې پریکړې په اړه او د دلایلو په اړه یې لیکلی معلومات درکړو.

## دوهم پړاو

په دوهم پړاو کې د ارزونې بهیر پیلیږي. د ارزونې په لړ کې به د متقاضي لپاره لاندې کارونه ترسره شي:
- تاسې ته به د استخدام مسئول ټولنیز کارکونکی موئظف شي او د یوې پراخې ارزونې د بشپړولو لپاره به تاسو سره ۶ الی ۸ ځلې ملاقات وکړي

- د صحت، امنیت او د وسایلو ارزونه به ترسره شي
- د هغو کرنیو لپاره چې په شخصي کرایی کورونو کې ژوند کوي د کور د خاوند لخوا لیکلي موافقې ته اړتیا ده
- تر پاملرنې لاندې د کوچني د اړتیاوو د پوره کولو په منظورمتقاضیانو ته د اړتیا وړ فرنیچر او وسایلو د پلورلو لپاره په پیل کې مالي مرسته موجوده ده
- په ارزونه کې د اضافه کیدو په منظور به متقاضیانو ته د لیکنې کار سپارل کیږي ترڅو د ملاقاتونو ترمینځ یې بشپړ کړي
- د ارزونې په جریان کې به د ارزونې د F فورمه بشپړ شي

## د روزنې د هیئت سره کتنه او منظوري

د دغه بهیر په پای کې به اړین وي ترڅو د پاملرنې د هیئت په غونډه کې حاضر شئ. دا د هغو مسلکي خلکو د ګروپ څخه جوړه ده چې د کوچنیانو سره د کار تجربه لري، او یا به خپله له هغوي څخه ساتنه شوې وي. موږ به تاسې ته بلنه درکړو ترڅو د پاملرنې د هیئت سره ملاقات وکړئ، څوک چې به بیا د لاندې موادو پربنسټ د پاملرنې لپاره سپارښتنې وکړي:

- هغه معلومات چې د ارزونې د راپور د F په فورمه کې موجود دی
- په شخصي ډول ستاسې سره ملاقات

د پاملرنې لپاره ستاسې د مناسبتیا په اړه پریکړه به د هانزلو په کونسل کې د ادارې د یوې پریکړه کونکي لخوا ترسره شي.

## کله چې روزنیز ساتونکی شوئ، موږ به تاسې ته د ساتنې لپاره د نظر وړ کوچنیان پیدا کړو

کله چې منظور شوئ نو ستاسې د پاملرنې سفر به پیل شي. تاسو ته به د وامداره زده کړه او ملاتړ درکړل شي ترڅو خپل د پاملرنې لاندې کوچنیانو لپاره مثبتو لاروچارو ته وده ورکړئ او هغوي ته د دې وړتیا ورکړئ ترڅو خپلې بشپړ وړتیا ترلاسه کړي.

**د ساتنیز روزونکی کیلدو د انتخاب سره تاسې د یو کوچني ـ او خپل په ژوند کې لوی بدلون راوستلئ شئ.**

د پاملرنې د ټیم سره اړیکه ونیسئ:

په لاندې نمبر موږ ته تیلفون وکړئ

8558 731 0800

لاندې بیښنالیک سره اړیکه ونیسئ

**fostering@hounslow.gov.uk**

او یا هم زموږ ویب پاڼه وګورئ

**www.hounslow.gov.uk/fostering**